# د عامې روغتیا وزارت



لومړی پړاو - نهمه گڼه
۱۴۴۷-۰۵-۰۱

## پرلیکه خپرونه

# روغتیا اوونیزه

- د UNDP سازمان له مشر سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ بورډ ۱۹مې غونډې ترسره کېدل!
- په خوراکي محصولاتو کې د تحلیل شویو خطرونو په اړه خبري ناسته!
- د الشفاء ملي او تخصصي روغتون د ترمیم چارو چټکتیا په موخه ناسته!
- یو شمېر ولایتونو کې د عمومي روغتونو د جوړولو افر پرانیستې لړۍ پیل!

د ویاندوی، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست



## د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د (UNDP) سازمان له مشر، ښاغلي سټيفن روډریک سره لیدنه تر سره کړه.

په دې لیدنه کې د روغتیایي مرکزونو لپاره د لمریزې بریښنا سیستم پر جوړولو او د دې پروسې پر لا ادامې ، د محیطي روغتیا برنامو پر پیل او غښتلتیا ، د طبي زباله جاتو پر مدیریت ، د محیطي روغتیا اړوند ټرینرانو او روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې او روزنې ، د ملاریا، توبرکلوز او ایچ آی وي ناروغیو د مخنیوي او د دې ناروغیو د مخنیوي اړوند څانګو پر هر اړخیز ملاتړ بحث او خبرې تر سره شوې. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یاد سازمان له همکارۍ څخه په مننې د محیطي روغتیا برنامو پر پیل او غښتلتیا ، د طبي زباله جاتو پر مدیریت ، د راډیولوژیکي خطرونو څخه د کارکوونکو ساتنې ، د محیطي روغتیا اړوند ټرینرانو او روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې او روزنې ، د اړمنو سیمو او روغتیایي مرکزونو لپاره د لمریزې بریښنا سیستم جوړولو، او د ساري ناروغیو په کنټرول کې د یو این ډي پي همکاري او همغږي اړینه وګڼله. دغه راز، د یو این ډي پي سازمان مشر او مل پلاوي د ذکر شویو برنامو پر دوامدار ملاتړ ژمنه وکړه او په وینا یې هڅه یې دا ده چې د افغانستان روغتیایي سیستم سره به په دوامداره توګه همکار اوسي.

## محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت‌عامه ۱.۱.۱، با محترم ستیفن رودریک رئیس برنامه انکشافی ملل متحد (UNDP) برای افغانستان، در دفتر کارش دیدار کرد.

در این دیدار، در مورد ایجاد سیستم برق آفتابی برای مراکز صحی و ادامه این روند، آغاز و تقویت برنامه‌های صحت محیطی، مدیریت زباله‌های طبی، ارتقاء ظرفیت و آموزش کارمندان صحی و ترینرها در بخش صحت محیطی و جلوگیری از امراض ساری ملاریا، توبرکلوز،HIV و حمایت همه‌جانبه از بخش‌های مربوط به آن، بحث و تبادل نظر صورت گرفت. محترم وزیر صحت‌عامه ضمن قدردانی از همکاری‌های این سازمان، بر آغاز و تقویت برنامه‌های صحت محیطی، مدیریت زباله‌های طبی، حفاظت کارمندان در برابر خطرات رادیولوژیکی، ارتقاء ظرفیت کارمندان صحی و ترینرها، تأمین برق آفتابی برای مناطق نیازمند و مراکز صحی و همکاری UNDP در زمینه کنترل بیماری‌های ساری تأکید کرد. همچنان، رئیس UNDP و هیأت همراهش، بر حمایت دوامدار از برنامه‌های یادشده تعهد نمودند و گفتند که تلاش دارند تا به صورت دوامدار با سیستم صحی افغانستان همکاری نمایند.



## Bid Opening Held for the Construction of a General Hospital in Dand-e-Ghori District of Baghlan and Shinwari District of Parwan Province.

The process was conducted in the presence of Mohammad Younis Ghalib, Director of Procurement at the Ministry of Public Health; officials from the Offer Opening committee and representatives of eleven construction companies. Ghalib stated, "This process is fully transparent, and we expect the company that takes over the project to carry out their work promptly, in line with the guidelines and conditions set by MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation." The construction company representatives pledged that, if successful in the bid, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work. It is important to highlight that the Ministry of Public Health is undertaking an extensive nationwide initiative to establish general hospitals across all 318 districts, with the procurement processes for this large-scale project actively progressing.

## د بغلان ولایت د ډنډغوري ولسوالۍ عمومي روغتون او پروان ولایت شینواري ولسوالۍ عمومي روغتون د جوړولو افر پرانیستې پروسه ترسره شوه.

یاده پروسه د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو رئیس، ښاغلي محمد یونس غالب، د افر پرانیستې پروسې مسؤلینو او د ۱۱ ودانیزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه. په همدې موخه جوړه شوې ناسته کې د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو رئیس، ښاغلي محمد یونس غالب وویل «دغه پروسه په بشپړه توګه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بریالی کېږي، هیله لرو کارونه په دقیق او تاکلي وخت د عامې روغتیا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده او موږ به یې له چارو څخه نظارت کوو». بل لور، د ودانیزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بریالي شي، د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم به عمل ترسره کړي. د یادونې وړ ده، د عامې روغتیا وزارت د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونو د جوړولو پلان لري، چې د یادې پروسې تدارکاتي چارې دوام لري.



## د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ بورډ ۱۹ مه غونډه تر سره شوه:

ياده غونډه چې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ د وزارت د مرستيالانو او مرکزي رئيسانو په شتون کې تر سره شوه، په دې غونډه کې اړوندو اداري مسؤليتونو ته د لا ښې پاملرنې، په چارو کې د ښه والي او چټکتيا، په روغتونونو او روغتيايي مرکزونو کې د اړتيا وړ درملو او تجهيزاتو د شتون او پيرېدلو، د روغتيايي خدماتو کيفيت ښه والي، له ملي معيارونو سره سم په روغتونونو کې د ټرينرانو، متخصصينو او ټريني ډاکټرانو د تشکيلاتو منطقي کېدو، د روغتيا ملي پاليسۍ سره سم د خدماتو وړاندې کولو او مؤسسو فعاليت تنظيم، په هېواد کې د شري واکسيناسيون کمپاينونو کيفيت ښه والي او پوښښ پراختيا، په روغتونونو کې د شته ستونزو اغېزمن حل، د روغتونونو مسؤلينو او روغتيايي کارکوونکو لپاره د طبي اخلاقو اړوند سمينارونو برابرولو او د ادارو تر منځ د لا زياتې همغږۍ په اړه بحث او خبرې تر سره شوې. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په پورته ذکر شويو موضوعاتو ټينګار وکړ او په دې اړه يې د عملي اقداماتو تر سره کولو سپارښتنې وکړې؛ ترڅو چارې په بشپړ شفافيت، چټکتيا او اغېزمن ډول ترسره شي. دغه راز، د عامې روغتيا وزارت مرستيالانو او مرکزي رئيسانو د چارو ښه ترسراوي په موخه خپل نظرونه او وړانديزونه شريک کړل او ژمنه يې وکړه، چې د ذکر شويو موضوعاتو په اړه به لازم اقدامات تر سره کړي.

## Nineteenth Leadership Board Meeting of the Ministry of Public Health Held:

The nineteenth meeting of the Leadership Board of the Ministry of Public Health was held under the chairmanship of H.E. Mawlawi Noor Jalal Jalali, with the participation of the deputy ministers and central directors. The meeting discussed issues such as enhancing attention to administrative responsibilities, improving efficiency and timeliness in operations, ensuring the availability and procurement of necessary medicines and equipment in hospitals and health centers, improving the quality of health services, rationalizing the deployment of trainers, specialists, and trainee doctors in hospitals according to national standards, organizing service delivery and institutional activities in line with the national health policy, improving the quality and expanding the coverage of measles vaccination campaigns, effectively addressing existing problems in hospitals, providing medical ethics seminars for hospital managers and health workers, and strengthening coordination between institutions. H.E. Mawlawi Noor Jalal Jalali emphasized these priorities and instructed the implementation of practical measures to ensure transparency, efficiency, and effectiveness. Deputy ministers and central directors shared their views and recommendations to improve implementation and pledged to take the necessary steps accordingly.





## لغمان، نورستان او کونړ ولایتونو کې د پولیو واکسین ۷ ورځنی کمپاین پیل شو.

دغه کمپاین د عامې روغتیا وزارت د پولیو له منځه وړلو ملي بېړني عملیاتي مرکز رئیس، ډاکټر عبدالقدوس بريالي او یو شمېر مسؤلینو په شتون کې پیل شو، چې په تطبیق سره به یې یادو ولایتونو کې تر پنځه کلونو کم عمر لرونکي ماشومان واکسین شي.

## کمپاین ۷ روزه واکسین پولیو در ولایت های لغمان، نورستان و کنر آغاز شد.

این کمپاین با حضور داکتر عبدالقدوس بریالی، رئیس مرکز عملیاتی اضطراری ملی محو پولیو وزارت صحت‌عامه و تعدادی از مسوولان آغاز گردید. با تطبیق این کمپاین، اطفال زیر پنج سال در این ولایت‌ها واکسین خواهند شد.

## Seven-Day Polio Vaccination Campaign Initiated in Laghman, Nuristan, and Kunar Provinces.

The campaign was inaugurated in the presence of Dr. Abdul Quddus Baryalai, Director of the National Emergency Operations Center at the Ministry of Public Health, alongside several other dignitaries. Through this campaign, children below the age of five in these provinces will be vaccinated.



## د پروان ولایت د عامې روغتیا ریاست د کنفرانسونو تالار کې د روغتیایي مرکزونو د رواني روغتیا مشاورینو لپاره د رواني او ټولنیزو ملاتړونو او مشورو پیاوړتیا په موخه پنځه ورځنۍ سیمینار ترسره شو.

د پروان ولایت د عامې روغتیا رئیس، ډاکټر نیازمحمد مخلص د دې پروګرام د جوړېدو له امله د آغا خان بنسټ څخه مننه او قدرداني وکړ او دا یې یو مهم او مثبت ګام وباله. نوموړي له ګډونوالو وغوښتل چې له دې فرصت څخه اغېزمنه استفاده وکړي او زده کړې مطالب کاري ساحو کې وکاروي. بل لور د آغا خان بنسټ مسؤل، ښاغلي جواد وویل: «یاد سیمینار د پروان ولایت د روغتیایي مرکزونو د رواني روغتیا ۱۲ تنو مشاورینو لپاره جوړ شوی او پنځه ورځې به دوام ولري».

# د کابل ولایت د بگرامي ولسوالۍ ۳۰ بستریز روغتون د جوړولو افر پرانیستې پروسه ترسره شوه.

یاده پروسه د عامې روغتیا وزارت د افر پرانیستې پروسې مسؤلینو او د ۷ ودانیزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه. د افر پرانیستې پروسې مسؤلینو وویل «دغه پروسه په بشپړه توگه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بریالی کېږي، هیله لرو کارونه په دقیق او ټاکلي وخت د عامې روغتیا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه گټو پروژه ده او موږ به یې له چارو څخه نظارت کوو». بل لور، د ودانیزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بریالي شي، د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم به عمل ترسره کړي. د یادونې وړ ده، د عامې روغتیا وزارت د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونو د جوړولو پلان لري، چې د یادې پروسې تدارکاتي چارې دوام لري.



## Bid Opening Held for the Construction of a 30-Bed Hospital in Bagrami District of Kabul Province .

The process was conducted by Offer Opening committee and representatives of seven construction companies. Offer Opening Committee Officials stated, "This process is fully transparent, and we expect the company that takes over the project to carry out their work promptly, in line with the guidelines and conditions set by MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation."

The construction company representatives pledged that, if successful in the project, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work. It is important to highlight that the Ministry of Public Health is undertaking an extensive nationwide initiative to establish general hospitals across all 318 districts, with the procurement processes for this large-scale project actively progressing.

## د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو او کارکوونکو ته په ټولنه کې د ناوړه او بدو رواجونو مخنیوي په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان د تشریح او تدریس لړۍ پیل شوه.

د تدریس په یاده لړۍ کې د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس، الحاج شیخ محمد طاهر حلیم ګډونوالو ته د ناوړه رواجونو مخنیوي په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان بنسټیز اهداف، د شریعت له نظره یې اهمیت او د عملي تطبیق څرنګوالی روښانه کړ. دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس په خپلو خبرو کې وویل؛ د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دغه فرمان د اسلامي ټولنې د اصلاح، د باطلو رواجونو د له منځه وړلو او اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا لپاره یو مهم ګام دی. د یادونې وړ ده، چې په دغه فرمان کې د کورني او ټولنیز ژوند، نکاح، مهر، حج او عمرې، د غم او ښادۍ او نور موضوعات شامل دي، چې د ټولنې د اصلاح او د فرمان د ښه تطبیق په موخه به لا دوامدار تدریس شي.

## The Ministry of Public Health has started a series of sessions to explain and teach the decree of the Supreme Leader, Amir al-Mu'minin (may Allah protect him), aimed at preventing harmful customs and negative traditions in society.

In this series of sessions, Alhajj Sheikh Mohammad Tahir Halim, Chief of Staff of the Ministry of Public Health, explained to the participants the fundamental objectives of the decree of Amir al-Mu'minin (may Allah protect him), its importance from the perspective of Sharia, and methods for its practical implementation to prevent harmful traditions. The Chief of Staff stated that the decree of Amir al-Mu'minin (may Allah protect him) represents an important step toward reforming Islamic society, eliminating false traditions, and reinforcing Islamic values. Notably, this decree covers topics related to family and social life, marriage, dowry, Hajj and Umrah, as well as mourning and celebrations. Teaching sessions will continue to promote societal reform and ensure proper implementation of the decree.





## د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ د درملو داخلي تولیدوونکو فابریکو له مسؤولینو سره د همغږۍ ملاتړ، داخلي تولیداتو ته لومړیتوب ورکولو او د شته ستونزو حل په موخه ناسته تر سره کړه.

په یاده ناسته کې چې د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال ښاغلي مولوي حمدالله زاهد، د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي، د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال دوکتور محمد حسن غیاثي او د تولیدي فابریکو مسؤلینو شتون درلود، چې د عامې روغتیا وزارت سره په لا ښې همغږۍ ، د نویو درملیزو اقلامو په تولید، د داخلي تولیداتو پرمټ د اړتیاوو پوره کولو او د روغتیایي خدماتو پر مهال داخلي تولیداتو ته په لومړیتوب ورکولو خبرې تر سره شوې. د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي حمدالله زاهد د خپلو خبرو پر مهال د داخلي تولیداتو پر ارزښت وینا وکړه او ورسره یې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ. نوموړي همدارنګه په عاجلو حالاتو او الهي پیښو کې د تولیدي فابریکو له همکارۍ مننه وکړه او د لا ښې همغږۍ او عاجلو حالاتو کې د تیاري اړوند یې لازمې سپارښتنې وکړې. د مجلس په جریان کې د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي عبدالولي حقاني داخلي تولیدات ارزښتمن وبلل او له تولیدي فابریکو یې مننه وکړه، چې په کور دننه یې پانګونه کړې. همدارنګه د مجلس په جریان کې د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال دوکتور محمد حسن تر څنګ د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي عدالولي صدیقي د داخلي تولیداتو اړوند خبرې وکړې او په وینا یې داخلي تولیداتو ته به د یو منظم میکانیزم له مخې لومړیتوب ورکوي. د مجلس په پای کې د تولیدي فابریکو مسؤولینو خپلې غوښتنې او شته ستونزې له رهبرۍ سره شریکې کړې چې د رهبرۍ له لوري ورته د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

## رهبری وزارت صحت‌عامه نشستی را با مسوولان شرکت‌های تولید داخلی ادویه به خاطر هماهنگی بیشتر، حمایت، اولویت‌دادن به تولیدات داخلی و رسیده‌گی به مشکلات موجود برگزار کرد.

در این نشست که با حضور معینان وزارت صحت‌عامه، محترم مولوی حمدالله زاهد معین دوا و غذا، محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، محترم داکتر محمدحسن غیاثی معین پالیسی و انکشاف صحت و مسوولان شرکت‌های تولیدی برگزار شد، در مورد هماهنگی بهتر با وزارت صحت‌عامه، تولید اقلام جدید ادویه، تأمین نیازها از طریق تولیدات داخلی و اولویت‌دادن بااستفاده از تولیدات داخلی در عرضه خدمات صحی بحث و تبادل نظر نمودند. محترم مولویحمدالله زاهد معین دوا و غذا در سخنان خود، ارزش تولیدات داخلی را مهم خوانده، بر همکاری همه‌جانبه تأکید نمود. همچنان، محترم معین دوا و غذا از همکاری کارخانه‌های تولیدی در حالت‌های اضطراری و حوادث طبیعی قدردانی نموده و هدایاتی را به خصوص آماده گی در چنین مواقع ارائه کرد. در ادامه این نشست، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، تولیدات داخلی را ارزشمند خواند و از سرمایه‌گذاری مسئولان این کارخانه‌ها در داخل کشور قدردانی نمود. در ادامه، محترم داکتر محمد حسن غیاثی و محترم قاری عبدالولی صدیقی نیز بر حمایت از تولیدات داخلی تأکید نمودند و گفتند که برای حمایت مؤثر، یک میکانیزم منظم در نظر گرفته خواهد شد. در پایان این نشست، مسوولان کارخانه‌های تولیدی خواسته‌ها و چالش‌های موجود خود را با رهبری وزارت شریک ساختند که در پاسخ، از جانب رهبری وعده همکاری کامل داده شد.

## د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس، ډاکټر وحدت الکوزي د مرکز او روغتونونو د اداري سیستم د ډیجیټل کولو (بریښنایي کېدو) په موخه له مالیې، لوړو زده کړو او مخابراتو وزارتونو مسؤلینو سره ګډه ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس، ډاکټر وحدت الکوزي وویل: «د روغتیایي خدمتونو د ښه مدیریت، اسانه لاسرسي او د ناروغانو د معلوماتو د دقیق ثبت لپاره د روغتونونو د اداري سیستم ډیجیټل کېدل یوه بنسټیزه اړتیا ده. هغه زیاته کړه، چې د شفاف سیستم له لارې د معالجوي خدمتونو کیفیت تضمینېدلی شي او دا کار به د ناروغانو د رضایت کچې زیاتېدو لامل هم شي». د ناستې په پای کې پریکړه وشوه، چې د عامې روغتیا او لوړو زده کړو وزارتونه به خپلې اړتیاوې د مالیې او مخابراتو له وزارتونو سره شریکې کړي، څو د روغتونونو د اداري سیستم ډیجیټل کولو بهیر په همغږې توګه پرمخ ولاړ شي. همدارنګه دا پریکړه هم وشوه، چې د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو لپاره به ډیجیټلي سیستم د مخابراتو وزارت جوړ کړي او لګښتونه به یې مالیې وزارت پرې کړي.



## داکتر وحدت الکوزی رئیس عمومی طب معالجوی وزارت صحت‌عامه به خاطر دیجیتال‌سازی سیستم‌های اداری شفاخانه‌ها و مرکز این وزارت، نشست مشترکی را با مسوولان وزارت‌های مالیه، تحصیلات عالی و مخابرات برگزار کرد.

در این نشست، داکتر وحدت الکوزی گفت:« که برای مدیریت بهتر خدمات صحی، دسترسی آسان‌تر و ثبت دقیق اطلاعات بیماران، دیجیتالی شدن شفاخانه‌ها یک نیاز اساسی است. وی افزود که کیفیت خدمات معالجوی از طریق سیستم شفاف تضمین شده می‌تواند و این کار باعث افزایش رضایت بیماران نیز خواهد شد.» در پایان این نشست، فیصله شد که وزارت‌های صحت‌عامه و تحصیلات عالی نیازمندی‌های‌شان را با وزارت‌های مالیه و مخابرات شریک سازند تا روند دیجیتال‌سازی سیستم های اداری شفاخانه‌ها هماهنگ به پیش برود. همچنان تصمیم گرفته شد که سیستم دیجیتالی برای شفاخانه‌ها و مراکز صحی توسط وزارت مخابرات ایجاد و هزینه‌های آن از طرف وزارت مالیه تأمین شود.



## د عامې روغتیا وزارت د راتلونکو پنځو کلونو ملي ستراتیژۍ د تهیه کولو په موخه د یاد وزارت له رئیسانو او د پروژو مسؤلینو سره ناسته ترسره کړه.

یاده ناسته د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي په مشرۍ، د مقام د دفتر لوی رئیس شیخ محمد طاهر حلیم، مرکزي رئیسانو، د پروژو مسؤلینو او اقتصاد وزارت د استازو په شتون کې ترسره شوه. دغه ناسته چې موخه د عامې روغتیا وزارت د ملي پروژو د تطبیق لپاره د راتلونکو پنځو کلونو ستراتیژۍ چمتو کول و. د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال له مرکزي رئیسانو او د پروژو مسؤلینو څخه وغوښتل، چې د خپلو اړوندو ادارو د پروژو ټول جزییات د هغه جدول په خانو کې ولیکي، چې ورلېږل کېږي او تر دوو ورځو پورې یې واستوي؛ ترڅو وروسته د اړینو اجراآتو لپاره د اقتصاد وزارت ته ولېږل شي. له بل لورې، د عامې روغتیا وزارت مرکزي رئیسانو او د پروژو مسؤلینو ژمنه وکړه، چې د یادو اجراآتو لپاره به لازمې چارې ترسره کړي.

د یادونې وړ ده، چې د اقتصاد وزارت استازو د هغو جدولونو د ډکولو طریقه، چې ورته اړتیا وه، د یو پریزینټېشن له لارې ګډونوالو ته تشریح کړه.

## The Ministry of Public Health (MoPH) convened a high-level meeting with senior officials and project managers to develop a national strategy for the next five years.

The meeting was chaired by Dr. Mohammad Hassan Ghiasy, Deputy Minister for Health Promotion and Policy; and attended by Sheikh Mohammad Tahir Halim, Chief of Staff, along with central directors, project managers, and representatives from the Ministry of Economy. The primary objective was to formulate a five-year strategic plan for implementing national health projects. Dr. Ghiasy instructed all central directors and project managers to complete the designated project information table for their respective departments and submit it within two days for onward submission to the Ministry of Economy. Central directors and project managers affirmed their commitment to fulfilling the required tasks to ensure effective implementation of the proposed projects. Representatives from the Ministry of Economy delivered a presentation to guide participants on how to accurately complete the required tables.

## د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ د درملو داخلي تولیدوونکو فابریکو له مسؤولینو سره د همغږۍ ملاتړ، داخلي تولیداتو ته لومړیتوب ورکولو او د شته ستونزو حل په موخه ناسته تر سره کړه.

په یاده ناسته کې چې د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال ښاغلي مولوي حمدالله زاهد، د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي، د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال دوکتور محمد حسن غیاثي او د تولیدي فابریکو مسؤلینو شتون درلود، چې د عامې روغتیا وزارت سره په لا ښې همغږۍ ، د نویو درملیزو اقلامو په تولید، د داخلي تولیداتو پرمټ د اړتیاوو پوره کولو او د روغتیایي خدماتو پر مهال داخلي تولیداتو ته په لمړیتوب ورکولو خبرې تر سره شوې. د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي حمدالله زاهد د خپلو خبرو پر مهال د داخلي تولیداتو پر ارزښت وینا وکړه او ورسره یې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ. نوموړي همدارنګه په عاجلو حالاتو او الهي پیښو کې د تولیدي فابریکو له همکارۍ مننه وکړه او د لا ښې همغږۍ او عاجلو حالاتو کې د تیاري اړوند یې لازمې سپارښتنې وکړې. د مجلس په جریان کې د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي عبدالولي حقاني داخلي تولیدات ارزښتمن وبلل او له تولیدي فابریکو یې مننه وکړه، چې په کور دننه یې پانګونه کړې. همدارنګه د مجلس په جریان کې د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال دوکتور محمد حسن تر څنګ د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي عدالولي صدیقي د داخلي تولیداتو اړوند خبرې وکړې او په وینا یې داخلي تولیداتو ته به د یو منظم میکانیزم له مخې لمړیتوب ورکوي. د مجلس په پای کې د تولیدي فابریکو مسؤولینو خپلې غوښتنې او شته ستونزې له رهبرۍ سره شریکې کړې چې د رهبرۍ له لوري ورته د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړل شو.



## رهبری وزارت صحت‌عامه نشستی را با مسوولان شرکت‌های تولید داخلی ادویه به خاطر هماهنگی بیشتر، حمایت، اولویت‌دادن به تولیدات داخلی و رسیده‌گی به مشکلات موجود برگزار کرد.

در این نشست که با حضور معینان وزارت صحت‌عامه، محترم مولوی حمدالله زاهد معین دوا و غذا، محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، محترم داکتر محمدحسن غیاثی معین پالیسی و انکشاف صحت و مسوولان شرکت‌های تولیدی برگزار شد، در مورد هماهنگی بهتر با وزارت صحت‌عامه، تولید اقلام جدید ادویه، تأمین نیازها از طریق تولیدات داخلی و اولویت‌دادن بااستفاده از تولیدات داخلی در عرضه خدمات صحی بحث و تبادل نظر نمودند. محترم مولویحمدالله زاهد معین دوا و غذا در سخنان خود، ارزش تولیدات داخلی را مهم خوانده، بر همکاری همه‌جانبه تأکید نمود. همچنان، محترم معین دوا و غذا از همکاری کارخانه‌های تولیدی در حالت‌های اضطراری و حوادث طبیعی قدردانی نموده و هدایاتی را به خصوص آماده گی در چنین مواقع ارائه کرد. در ادامه این نشست، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، تولیدات داخلی را ارزشمند خواند و از سرمایه‌گذاری مسئولان این کارخانه‌ها در داخل کشور قدردانی نمود. در ادامه، محترم داکتر محمد حسن غیاثی و محترم قاری عبدالولی صدیقی نیز بر حمایت از تولیدات داخلی تأکید نمودند و گفتند که برای حمایت مؤثر، یک میکانیزم منظم در نظر گرفته خواهد شد.

در پایان این نشست، مسوولان کارخانه‌های تولیدی خواسته‌ها و چالش‌های موجود خود را با رهبری وزارت شریک ساختند که در پاسخ، از جانب رهبری وعده همکاری کامل داده شد.

## MoPh convened a meeting with local pharmaceutical factories' officials to coordinate, offer support, prioritize production, and resolve prevalent challenges.

The meeting was attended by the Deputy Minister of Food and Drugs, Mawlawi Hamdullah Zahid; the Deputy Minister of Finance and Administrative Affairs, Qari Abdul Wali Siddiqui; the Deputy Minister of Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani; the Deputy Minister for Health Promotion and Policy, Dr. Mohammad Hassan Ghiasy; and officials from manufacturing factories. It focused on improving coordination with the Ministry of Public Health, increasing the production of new medical supplies, meeting the needs for local products, and prioritizing local products in health services." Speaking at the meeting, Mawlawi Hamdullah Zahid emphasized the value of local products and assured his full cooperation with the manufacturers. While thanking the manufacturing factories for their cooperation during emergencies and natural disasters, Mawlawi Zahid provided recommendations to enhance coordination and preparedness in such situations. During the meeting, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, described local products as valuable and thanked the manufacturing factories for their domestic investment. The Deputy Minister for Health Development and Policy, Dr. Mohammad Hassan, and the Deputy Minister for Finance and Administrative Affairs, Mr. Abdul Wali Siddiqui, also spoke about local products, stating that they would prioritize them through a systematic mechanism." At the end of the meeting, the officials from the manufacturing factories presented their requests and highlighted existing challenges to the leadership, who assured them of full cooperation.

## د سمنګان ولایت د حضرت سلطان ولسوالۍ عمومي روغتون د جوړولو افر پرانیستې پروسه ترسره شوه.

یاده پروسه د عامې روغتیا وزارت د افر پرانیستې پروسې مسؤلینو او د ۷ ودانیزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه. د افر پرانیستې پروسې مسؤلینو وویل «دغه پروسه په بشپړه توګه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بریالی کېږي، هیله لرو کارونه په دقیق او ټاکلي وخت د عامې روغتیا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده او موږ به يې له چارو څخه نظارت کوو». بل لور، د ودانیزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بریالي شي، د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم عمل به ترسره کړي. د یادونې وړ ده، د عامې روغتیا وزارت د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونو د جوړولو پلان لري، چې د يادې پروسې تدارکاتي چارې دوام لري.

## پروسه آفرگشایی ساخت شفاخانه عمومی ولسوالی حضرت سلطان ولایت سمنگان برگزار شد.

این پروسه با حضور مسوولان پروسه آفر گشایی وزارت صحت عامه و نماینده گان ۷ شرکت ساختمانی برگزار گردید. مسوولان پروسه آفرگشایی وزارت صحت‌عامه، در نشستی که به این مناسبت برگزار شد، گفتند: «این پروسه از شفافیت کامل برخوردار بوده و ما از شرکتی که برنده می‌شود خواهان کار بهتر و دقیق به وقت و زمان آن مطابق معیارات وزارت صحت‌عامه را خواهانیم، چون این پروژه عام المنفعه بوده و ما از جریان کار آن نظارت خواهیم کرد.» از سوی‌هم نماینده گان شرکت های ساختمانی، وعده سپردند که در صورت برنده شدن در پروسه آفر گشایی، مطابق معیارات وزارت صحت‌عامه عمل خواهیم کرد. قابل یاد آوری است که کار پروسه تدارکاتی ایجاد شفاخانه های عمومی نظر به پلان وزارت صحت‌عامه در ۳۱۸ ولسوالی کشور ادامه دارد.

## Bid Opening Held for the Construction of a General Hospital in Hazarat Sultan District of Samangan Province.

The process was conducted by Offer Opening committee at MoPH and representatives of seven construction companies. Offer Opening Committee Officials stated, "This process is fully transparent, and we expect the company that takes over the project to carry out their work promptly, in line with the guidelines and conditions set by MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation." The construction company representatives pledged that, if successful in the project, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work. It is important to highlight that the Ministry of Public Health is undertaking an extensive nationwide initiative to establish general hospitals across all 318 districts, with the procurement processes for this large-scale project actively progressing.



## د عامې روغتيا وزارت د نظارت رئيس، ډاکتر کريم الله حليمي او مل تخنيکي ټيم دايکندي ولايت ته د سفر په ترڅ کې د يا ولايت له خصوصي او دولتي روغتيايي مرکزونو څخه نظارت ترسره کړ.

دغه نظارت چې موخه يې د هېواد په خصوصي او دولتي روغتونونو کې د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړل، هېوادوالو ته په معياري توګه د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول او د چارو شفافيت دی، په ترڅ کې يې ډاکتر کريم الله حليمي او مل تخنيکي ټيم د دايکندي ولايت د ميرامور، شهرستان، پاتو، کيتي، کجران او بندر ولسواليو روغتيايي مرکزونو څخه ليدنه وکړه، د ناروغانو احوال يې واخيست، ستونزې او نيمګړتياوې يې په نښه او د حل په موخه يې له اړوندو مسؤلينو سره شريکې کړې. دغه راز، د نظارت رئيس روغتيايي کارکوونکو ته سپارښتنې وکړې، چې د ناروغانو ستونزو ته د رسېدنې او درملنې برخه کې لا زياتې او نه ستړې کېدونکي هڅې وکړي.

## Dr. Karimullah Halimi, Director of Monitoring at the Ministry of Public Health (MoPH), recently led a technical delegation to Daikundi province to assess public and private health facilities.

To enhance the quality of healthcare services in both private and public hospitals, ensure the provision of standardized care, and promote operational transparency, Dr. Halimi and his team inspected health centers across the districts of Miramor, Shahristan, Pato, Kiti, Kajran, and Bandar. The delegation evaluated patient care, identified key challenges, and shared their findings with local officials for corrective action.

Dr. Halimi also encouraged health workers to redouble their efforts in addressing patients' needs and delivering effective treatment.

## داکترکریم الله حلیمی، رئیس نظارت وزارت صحت‌عامه، همراه با تیم تخنیکی شان در سفری به ولایت دایکندی، از مراکز صحی دولتی و خصوصی این ولایت نظارت نمودند.

این نظارت که به هدف بهبود کیفیت خدمات صحی در شفاخانه های دولتی و خصوصی کشور، ارائه خدمات صحی معیاری به شهروندان و تأمین شفافیت در کارها صورت می‌گیرد، در آن داکتر کریم‌الله حلیمی و تیم تخنیکی شان از مراکز صحی در ولسوالی‌های میرامور، شهرستان، پاتو، کیتی، کجران و بندر ولایت دایکندی دیدار نموده، وضعیت بیماران را بررسی، مشکلات و کاستی‌ها را شناسایی و برای حل آنان را با مسوولان مربوطه شریک نمودند. همچنان رئیس نظارت هدایت داد، تا کارمندان صحی به مشکلات صحی بیماران رسیده گی نموده و در قسمت تداوی آنان تلاش های بیشتر و خستگی ناپذیری نمایند.





## د فارياب ولايت د پښتونکوټ ولسوالۍ عمومي روغتون د جوړولو افر پرانيستې پروسه ترسره شوه.

ياده پروسه د عامې روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئيس ډاکټر عنايت الله عنايت، د افر پرانيستې پروسې مسؤلينو او د ۳ ودانيزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه. د څارنې او پلټنې لوی رئيس، ډاکټر عنايت الله عنايت وويل «دغه پروسه په بشپړه توګه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بريالی کېږي، هيله لرو کارونه په دقيق او ټاکلي وخت د عامې روغتيا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده او موږ به يې له چارو څخه نظارت کوو». بل لور، د ودانيزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بريالي شي، د عامې روغتيا وزارت له معيارونو سره سم به عمل ترسره کړي. د يادونې وړ ده، د عامې روغتيا وزارت د هېواد په ۳۱۸ ولسواليو کې د عمومي روغتونو د جوړولو پلان لري، چې د يادې پروسې تدارکاتي چارې دوام لري.

## Bid Opening Held for the Construction of a General Hospital in Pashtun Kot District of Faryab ProvinceBid Opening Held for the Construction of a General Hospital in Pashtun Kot District of Faryab Province.

The process was conducted in the presence of Dr. Inayatullah Inayat, Director of Monitoring and Inspection at the Ministry of Public Health, officials from the Offer Opening Committee, and representatives of three construction companies. Dr. Inayatullah Inayat stated, "This process is fully transparent, and we expect the company awarded the project to carry out their work promptly, in accordance with the guidelines and conditions set by the MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation." The representatives of the construction companies pledged that, if awarded the project, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work.

It is important to highlight that the Ministry of Public Health is undertaking an extensive nationwide initiative to establish general hospitals across all 318 districts, with procurement processes for this large-scale project actively underway.

## د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ په وړانديز او د رياست الوزراء عالي مقام د منظورۍ په اساس د روغتيا وزارت اړوند لاندې ټاکنې وشوې .

ډاکټر محمد اقبال حماد د درملو، روغتيايي محصولاتو او خوراکي توکو د څارنې او پلټنې رئيس په توګه او حافظ صبغت الله بريالی د درملو، روغتيايي محصولاتو او خوراکي توکو د کيفيت کنټرول لابراتوار د رئيس په توګه وټاکل شول. دغه ټاکنې د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ په وړانديز او د رياست الوزراء عالي مقام د منظورۍ په اساس د چارو د لا ښه ترسراوي په موخه وشوې؛ ترڅو د يادو برخو اداري او تخنيکي چارې لا پياوړې، د خدمتونو کيفيت لوړ او اغېزمن شي.

## بر اساس پیشنهاد رهبری وزارت صحت‌عامه و منظوری مقام عالی ریاست‌الوزرا، تعیینات ذیل در چوکات این وزارت صورت گرفت.

داکتر محمد اقبال حماد به حیث رئیس نظارت و بررسی ادویه، محصولات صحی و مواد غذایی و حافظ صبغت‌الله بریالی به حیث رئیس لابراتوار کنترول کیفیت ادویه، محصولات صحی و مواد غذایی تعیین گردیدند. این تعیینات بر اساس پیشنهاد رهبری وزارت صحت‌عامه و منظوری مقام عالی ریاست‌الوزرا، به‌منظور بهبود امور اداری و اجراآت صورت گرفت؛ تا فعالیت‌های اداری و تخنیکی بخش‌های مربوط تقویت یافته، کیفیت و مؤثریت خدمات افزایش یابد.

## The following appointments within the Ministry of Public Health were made with the approval of the Prime Minister and upon the recommendation of the Ministry’s senior leadership.

Dr. Mohammad Iqbal Hammad has been appointed Director of Supervision and Inspection for Drugs, Health Products, and Food. Hafiz Sibghatullah Baryalai has been named Director of the Quality Control Laboratory for the same sectors. These appointments aim to enhance managerial efficiency, reinforce administrative and technical capacities, and improve the overall quality and impact of service delivery.



## د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د الشفاء ملي او تخصصي روغتون د ترمیم چارو چټکتیا او ستونزو حل په موخه د تدارکاتو، ساختماني، معالجوي طب ، مالي ریاست مسؤلینو، د ملي انکشاف شرکت او ښار جوړونې وزارت استازو سره ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې چې د الشفاء ملي او تخصصي روغتون د ترمیم چارو د چټکتیا، شته ستونزو د حل او د خنډونو له منځه وړلو په اړه بحث او خبرې ترسره شوې، د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو مرستیال وویل، د الشفاء روغتون د ترمیم چارو ترسراوي پر وړاندې چې کوم خنډونه موجود دي، باید ژر تر ژر له منځه ویوړل شي او چارې دې په پوره چټکتیا، شفافیت او ښه کیفیت ترسره شي؛ ترڅو د خلکو باور تر لاسه او له خدماتو څخه ډاډمن شي. په یاده ناسته کې اړوندو مسؤلینو د خپلو فعالیتونو او د ترمیم پروسې د پرمختګ په اړه معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، د الشفاء ملي او تخصصي روغتون د ترمیم چارې به په لوړ کیفیت او لازم سرعت سره بشپړې کړي.



## Deputy Minister of Public Health for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, held a meeting with officials from the Procurement, Construction, Curative, and Finance Directorates, as well as representatives of the National Development Company and the Ministry of Urban Development, to accelerate the renovation of Al-Shifa National and Specialized Hospital and resolve challenges.

Participants discussed speeding up the renovation, addressing problems, and removing obstacles. The Deputy Minister emphasized that all hindrances must be removed promptly, and the work should be carried out with speed, transparency, and quality to ensure public trust in the services. Officials also provided updates on their activities and the progress of the renovation, assuring that the hospital's renovation would be completed efficiently and to high standards.

# د عامې روغتيا وزارت د خوړو خونديتوب لوی رياست د عامه پوهاوي په موخه په خوراکي محصولاتو کې د تحليل شويو خطرونو په اړه خبري ناسته ترسره کړه.

په دې خبري ناسته کې چې د خوړو او درملو معينيت د خوړو خونديتوب لوی رئيس، مولوي عبدالله حامد د وياندويې، اطلاعاتو او عامه اړيکو رئيس ډاکتر شرافت زمان امرخېل، د خوراکي توکو د جواز ورکونې رئيس انجينر محمد ولي عادل، يو شمېر مرکزي رئيسانو او د رسنيو استازو شتون درلود، د خوړو خونديتوب لوی رئيس د ياد رياست د تېر يو کال لاسته راوړنو په اړه وينا ترسره او ويې ويل «دا چې افغانستان د خوړو برخه کې تر يو اندازې وارداتي هېواد پرېښودل شوی خلک يې حق لري چې د خوړو له کيفيت، پاکوالي، حلالوالي او خونديتوب څخه ډاډمن وي؛ ترڅو له ناروغيو څخه خوندي پاتې شي او د کورنيو روغتيا تضمين شي.» همدارنګه، مولوي عبدالله حامد زياته کړه، " زمونږ ارزونې له علمي او نړيوالو معيارونو سره سمې دي او ويې ويل، د خوړو خونديتوب لوی رياست د ټيټ کيفيت لرونکو خوړو د قاچاق مخنيوي، د خلکو ترمنځ د باور فضا رامنځته کولو، د کورنيو توليداتو د ملاتړ او پياوړتيا، د لسګونو ټنو بې کيفيته خوړو د راټولولو او له منځه وړلو، د لابراتوارونو جوړولو، شرکتونو ته د جواز ورکولو او د ظرفيت لوړولو برخو کې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي. د خبري ناستې پر مهال د عامې روغتيا وزارت وياند ښاغلي ډاکټر شرافت زمان د خبري ناستې په ارزښت او موخو وينا وکړه، نوموړي د رسنيو رول په عامه پوهاوي کې اړين وګاڼه او له دوی يې وغوښتل چې د تحليل شويو خطرونو اړوند معلومات له ولسونو سره په تفصيلي توګه شريک کړي تر څو د دوی د ښې روغتيا لپاره عامه پوهاوی تر سره او د خطري ناروغيو څخه مخنيوی وشي. بل لور، په ياده ناسته کې د خوړو او درملو معينيت د خوراکي توکو د جواز ورکونې رئيس انجينر محمد ولي عادل، د خوړو برخه کې د ظرفيت لوړونې کارپوه انجينر سيد نعمت حسينيان او د خوراکي توکو د تحليل او سرويلانس امر انجينر شفيق الله شفق د خوړو د خونديتوب اړوند د تر سره شويو کړنو، نظارت، نويو شرکتونو ته د جوازونو لازم کيدنې، د معيارونو پر تطبيق، په خوراکي توکو کې د ۳۹ ډوله خطرونو .تحليل، د خوړو د خونديتوب اړوند عامه پوهاوي او د تېر کال لاسته راوړنو او فعاليتونو په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل



## The Directorate for Food Safety under the Ministry of Public Health convened a press briefing aimed at enhancing public awareness regarding the hazard assessment of food products.

**At a press conference attended by senior officials from the Deputy Minister's Office for Food and Drugs—including the Director General of Food Safety, Mawlawi Abdullah Hamid; Spokesperson and Director of Public Relations, Dr. Sharafat Zaman Amarkhil; and Director of Food Licensing, Engineer Mohammad Wali Adel—along with media representatives, the Director General outlined the directorate's key achievements over the past year. He emphasized that, as Afghanistan remains partially reliant on food imports, citizens have the right to food that is safe, clean, halal, and of high quality to protect public health and ensure family well-being. Mawlawi Abdullah Hamid emphasized that assessments align with scientific and international standards. He highlighted key achievements of the Directorate General of Food Safety, including preventing the smuggling of low-quality food, building public trust, supporting domestic production, removing tens of tons of substandard food, establishing laboratories, licensing companies, and enhancing institutional capacity. During the press conference, Dr. Sharafat Zaman, spokesperson for the Ministry of Public Health, highlighted the event's significance and objectives. He stressed the critical role of the media in raising public awareness and urged detailed communication of assessed hazards to prevent high-risk diseases and promote health. Key officials from the Deputy Minister's Office of Food and Drugs provided detailed updates on food safety efforts. Engineer Mohammad Wali Adel, Director of Food Licensing, along with capacity-building expert Engineer Sayed Nemat Hosinian and Engineer Shafiqullah Shafaq, Head of Food Analysis and Surveillance, outlined their work on monitoring, licensing new food companies, enforcing standards, and analyzing 39 types of food hazards. They also highlighted public awareness campaigns and reviewed the department's achievements over the past year.**

## ریاست عمومی مصوونیت غذایی وزارت صحت‌عامه، نشست خبری را در مورد آگاهی دهی‌عامه در رابطه به تحلیل خطرات محصولات غذایی برگزار کرد.

**در این نشست مولوی عبدالله حامد «حامد» رییس عمومی مصوونیت غذایی معینیت غذا و ادویه، داکتر شرافت زمان امرخیل رییس اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی وزارت صحت‌عامه، انجینر محمد ولی عادل رییس ثبت و جواز دهی محصولات غذایی و یک تعداد از رییسان مرکزی و نماینده گان رسانه ها اشتراک داشتند. رییس عمومی مصوونیت غذایی در این نشست، در مورد دستاوردهای یک ساله به تحلیل خطرات محصولات غذایی این ریاست سخنرانی نموده گفت:« افغانستان تا یک اندازه کشور وارداتی بوده و مردم حق دارند تا از کیفیت بهتر مواد غذایی، پاک بودن، حلال بودن و مصوون بودن آن مطمئن باشند و از آن استفاده نمایند تا به امراض مختلف مبتلا نشده و صحت خانواده ها تضمین گردد.» همچنان، مولوی عبدالله حامد علاوه نمود، ارزیابی های اداره ما علمی و مطابق با معیارات جهانی بوده و در مورد جلوگیری از قاچاق مواد غذایی بی‌کیفیت به کشور، به میان آوردن فضای اعتماد میان مردم و استفاده از تولیدات داخلی و تقویت آن، جمع آوری و هدر نمودن ده ها تُن مواد و محصولات غذایی بی‌کیفیت، ایجاد لابرتوارها در مرکز و ولایات، توزیع جواز به شرکت ها و ارتقاء ظرفیت از جمله موارد مهمی است که ریاست عمومی مصوونیت غذایی وزارت صحت‌عامه آنان را اجرا نمود است. از سوی‌هم، در جریان این برنامه، داکتر شرافت زمان امرخیل، رییس اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی وزارت صحت عامه، در مورد اهمیت و اهداف این کنفرانس خبری صحبت نمود و نقش رسانه‌ها را در آگاه دهی عامه ضروری دانست. و از آنها خواست تا اطلاعات مربوط به خطرات تحلیل‌شده را به طور مفصل با مردم به اشتراک بگذارند، تا بتوانند آگاهی عامه را برای بهبود صحت آنان افزایش داده و از بیماری‌های خطرناک جلوگیری کنند. علاوه برآن در ادامه این نشست، انجینر محمد ولی عادل، رئیس ثبت و جواز دهی محصولات غذایی معینیت غذا و ادویه، انجینر سید نعمت حسینیان، کارشناس ارتقاء ظرفیت و آگاهی دهی عامه علوم مواد غذایی و انجینر شفیق‌الله شفق، آمر تحلیل و سرویلانس مواد غذایی، معلومات جامعی را در مورد اقدامات انجام شده در رابطه با مصوونیت مواد غذایی، نظارت، الزامی بودن صدور جواز برای شرکت‌های جدید، اجرای معیار ها، تجزیه و تحلیل ۳۹ نوع خطر در مواد غذایی آگاهی‌دهی عامه در مورد مصوونیت مواد غذایی، دستاوردها و فعالیت‌های سال گذشته ارائه نمودند.**




## بلخ ولایت څلورمه ناحیه کې له یو شمېر درملتونونو، لابراتوارونو او روغتیایي کتنځایونو څخه نظارت ترسره شو.

د بلـخ ولایـت د عامـې روغتیـا ریاسـت د خـوړو او درملـو امریـت د نظـارت مسـؤلینو لـه ۸ درملتونونـو، ۱ لابراتـوار، ۹ روغتیایـي کتنځایونـو او همدارنګه له یو سراپا کلینیک څخه نظارت تر سره کړ. د دې نظارت په پایله کې، ۳ درملتونونه، یو د غاښونو کتنځای او یو سراپا کلینیک د ډاکترانو د جوازونو او مجهز لابراتوارونو نه درلودلو او اړوندو برخو کې د متخصصینو نه لرلو امله وتړل شول.

## از یک تعداد دواخانه ها، لابرتوارها و معاینه خانه ها در ناحیه چهارم ولایت بلخ نظارت صورت گرفت.

مسوولان تیـم بازرسـی آمریت غـذا و ادویـه ریاست صحت‌عامـه ولایت بلـخ ، از ۸ دواخانـه، ۱ لابراتـوار، ۹ معاینه‌خانه و همچنـان یـک بـاب کلینیک سرا پاء در این ولایت نظارت نمودند که در نتیجه، ۳ دواخانه ، ۱ معاینه‌خانه دندان و یک کلینیک سرا پاء به خاطر نداشتن جواز داکتران و لابراتوارهای مجهز و نداشتن متخصص در بخش‌های مربوطه مسدود گردیدند.

## Inspections in District 4 of Balkh Province

Officials from the Food and Drug Department of Balkh Public Health Directorate inspected 8 pharmacies, 1 laboratory, 9 clinics, and 1 private clinic. As a result, 3 pharmacies were closed for violations, 1 dental clinic and the private clinic were shut for operating without licensed doctors, and the laboratory was closed for lacking proper equipment and specialists.




## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي له مل پلاوي سره په کابل کې د الشفاء روغتون له ترمیماتي او ساختماني چارو څخه لیدنه ترسره کړه:

ښاغلي مرستیال د الشفاء روغتون ریفورم او د خدماتو پیل د هېواد یو له مهمو اړتیاوو وبلل ، نوموړي اړونده مسؤولینو ته د دې روغتون د ترمیماتي چارو د ژر بشپړېدنې او د تعمیراتي او ترمیماتي چارو پر مهال معیاراتو ته د پام کولو اړونــد لازمې سپارښتنې وکړې. د یادونې وړ ده د عامې روغتیا وزارت د هیواد روغتیایي سیستم د خودکفایۍ لپاره هڅې پیل کړي چې په دې ترڅ کې د کابل الشفاء روغتون هم د یادو هڅو یوه بېلګه ده چې د خدماتو په پیل سره به یې ولسونه په کور دننه د ډېرو تخصصي او معیاري روغتیایي خدماتو څخه برخمن شي.

## محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری وزارت صحت‌عامه ا.ا.ا و هیأت همراهش از جریان کارهای ترمیم ساختمان شفاخانه الشفاء در کابل دیدار کرد.

محترم معین مالی و اداری، ترمیم مجدد شفاخانه الشفاء و آغاز دوباره خدمات آن را از نیازهای مهم کشور عنوان کرد و به مسوولان مربوطه در مورد تسریع روند ترمیم و رعایت معیارها در جریان کارهای ساختمانی، هدایات لازم را داد. قابل یاد آوری است که وزارت صحت‌عامه به هدف خودکفایی سیستم صحی کشور تلاش‌هایی را آغاز کرده است، که ترمیم و احیای مجدد شفاخانه الشفاء یکی از نمونه‌های بارز این تلاش‌ها به شمار می‌رود. با آغاز خدمات این شفاخانه، مردم به خدمات تخصصی و معیاری صحی در داخل کشور دسترسی پیدا کرده و سهولت‌های قابل ملاحظه‌ای برای‌شان فراهم خواهد شد.